علامه عبدالحی حبیبی ۲۰۱۷/۰۷/۰۱

# البیرونی او افغانستان

د افغانستان د اسلامي دورې په ثقافت کښې د غزنویانو د شاهنشاهی عصر خورا اهمیت لري، او په دې زمان کښې چې څلورم او پنځم هجری قرن شمېرل کیږي د خراسان اسلامي فرهنگ ډېره ښه نشوونما کړې، او شرقي لوري ته په ټول هند کښې خپور سویدئ.

دغه ثقافت د معنوي او مادي پلوه ډېره مزایا لري، او د افغانستان خلکو د ایران او ماوراء النهر د خلکو په شمول ډیر کار پکښې کړیدئ، او داسې یو جامع او ښکلي فرهنگ ئې ځنې جوړ کړیدئ چې زموږ د اوسني ثقافت ریښې هم هغه ته رسیږي، او د هنر او فکر او پوهې او جهانداری اصولو او د ژوندانه د مختلفو لارو چارو له حیثه ډیر غني ثقافت دئ. د دې ثقافت په تشکیل او جوړونه کښې زموږ پوهانو، هنرمندانو او خلکو ډېره برخه درلوده او یو له دغو پوهانو څخه ابو ریحان محمد بن محمد بیروني دئ، چې په ۳۶۲هـ کال په بیروني کښې چې د خراسان شمال ته یو ځای ؤ زیږېدلي او په ٤٤٠ هـ کال په غزني کښې وفات سویدئ. ابو ریحان زموږ د هغو مشهورو پوهانو څخه ؤ چې په ساینس، جغرافیه، تاریخ، ریاضي او اسمان پېژندنه کښې ئې داسې آثار پرې ایښي دي چې تر اوسه لا هم د بشر په علمي پلټنو کښې اهمیت لري او موږ ته ډېر څه داي په لاس را کوي چې د علمي څېړني ښه مواد بلل کیږي.

ابو ریحان یو پوه او ذکي او بې تعصبه د لوړ نظر خاوند انسان ؤ چې به هغه زمانه کښې ډیر مشکلات ومنل، د اسلامي، عقلي و نقلي علومو ضخیرې ئې سره را ټولي کړې او له غزني څخه هند ته ولاړ، سنسکریټ ئې زده کړه د هند علوم او هندیانو د ژوندانو اصول ئې مطالعه کړل. او په هغه زمان کښې یوازي هم دی ؤ چې د هند په باب کښې مفصل کتابونه ولیکل، یا ئې له هندي آثارو څخه ترجمه کړل.

د البیروني اکثر کتابونه د غزني د شاهانو یا رجالو په نامه لیکل سویدي، قانون مسعودي ئې د سلطان مسعود، او الدستور ئې د مودود بن مسعود، الکتاب الجماهر في معرف الجواهر ئې هم د دغه غزنوي سلطان په نامه کښلي دي، یو کتاب التفهیم لاوایل صنعت التنجیم ئې په دری ژبه د یوې ښځې په نامه اهداء کری دئ، چې نوم ئې ریحانه د حسین لور وه. دی وایي: چې زما تالیفونه د عمر تر ٦٥ کاله پورې ۱۱۳ کتابونه دي چې د علم هیئت، طب، حکمت، حساب، فزیک، ارصاد،نجوم، روایات، تاریخ، جغرافیه، دارو پېژندني، عقاید، د وختونو ریاضي څېړني پکښې دي.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د ابو ریحان امتیاز له نورو پوهانو څخه په دې کښې دی چې د ده نظر او قضاوت بلکل آزاد ؤ، او علمي روش ئې انتقادي ؤ، شکوک او اوهام ئې له علمي دقیقي څېړني مانع نه ؤ، ده خپل معلومات د هند په باب کښې په یو کتاب کښې ولیکل چې نوم ئې (کتاب مالالهند من مقوله مقبوله في العقل او مزدوله) پر کښېښیود او پخپله دغه نوم د ده انتقادي علمي روش را ښئي. بل مشهور کتاب ئې آثار الباقیه دئ، چې د قدیمو ملتو عقاید او افکار ښه روښانه کوي.

بیروني په جغرافیا، هیئت، نجوم، فزیک کښې علمي ابتکارونه او نوي نوي افکار لري مثلاً: د مځکې د کرې محیط دائره له پخوانو پوهانو له خوا داسې ټاکلې سوې وه چې د اوسني ساینس له تحقیقه سره ډېر تفاوت لرې، مگر کله چه البیروني د ځېلو مطالعاتو او څېړنو په رڼا کښې د دغه دائرې اوږدوالي ۲۴۷۷۹ میله وټاکه نو ئې له اوسني تحقیقه فقط ۷۶ میله فرق دی، حال دا چې د یونان د پوهانو ټاکنه ۲۱ زره میله او د هندیانو دا ۲۴ زره میله او د عربو ماموني پوهانو دا ۱۵۲ میله له اوسنی ټاکنو سره فرق لري. او دا خبر په علم دنیا کې د البیروني نبوغ ښئي او که ده ده گرده آثار اوس هم نسته، خو هغه چې چاپي یا خطي پاته دي، ټول د قدر او استفادې وړ دي.

البیروني د افغانستان په محیط کښې او هم لوي خراسان کښې ډېر گرزېدلي ؤ دی د خپل علم په برکت ډېر محترم ؤ، ټول دربارو د ده قدر کاوه. بیهقي د غزنوي دربار مؤرخ د ابوریحان له مسامره د خوارزم کتابه نقل کوي چې یوه ورځ ابوالعباس مامون د خوارزم امیر پر آس سپور د ده حجرې ته نژدې تېرېدي او ابو ریحان ئې وغوښت، خو دي ژر نه ورغي نو پخپله امیر د حجرې دروازې ته راغی او وی ویل:

العلم من اشرف الولایات

ئاتیه کل الوري ولایاتي

یعني علم پخپله تر هري امیرئ اشرف دی، او ټول خلک عالم ته ورځي خو عالم نه ورځي فالعلم یعلو ولا یعلي. د البیروني په کتابو کښې د افغانستان ډېر تاریخي مسائل پیدا کیږي، په کتاب الهند کښې د کابل شاهانو داسې اطلاعات سته چې په بل کتاب کښې نه دي راغلي او دی وایي چې د نگر کوټ په کلا کښې د دوی نسب نامه پر دیبا لیکلې پرته وه او دا ځاي د اوسنئ پختیا په کورمه کښې ؤ، کتاب الهند د هغه وخت د افغانستان په جغرافي معلوماتو ښه ذخیره لري، او د خلکو افکار، ادب، روایات، اوضاع ښه ځیني څرگندیږي.

دا هغه معلومات دي چې د هغه وخت د ثقافت او تفکر په تاریخ کښې ډېر په کار راځي مثلاً دی وایي چه د اخرني کابل شاه اننده پاله د جیه پاله زوي په دربار کښې یو معلم ؤ، چې اوگره بوت نومېدي او ده په علم نجوم کښې دوه کتابونه د وره گویرت او شکهت پرت لیکلي ؤ.

د البیروني په قانون مسعودي او تحدید نهایات اماکن او الجماهر او الصیدنه کښې چې کوم جغرافیایي او طبي او د نباتاتو او جواهرو معلومات سته، هغه د څېړونکو لپاره یو غوره ذخیره ده، او دغه معلومات زکي ولیدي

توغان ترکي پوهاند، په یوه کتاب کښي د هغو کتابو له خطي نسخو څخه سره را ټول کړيدي او د "صفة المعموره علي البيروني" په نامه ئې په ۱۹۳۷ میلادي کال په ډهلي کښي چاپ کړيدي.

دا کتاب له کابله تر اباسینده پوري د ښارو او مسافاتو او خلکو خورا مغتنم جغرافيي معلومات لري او د طبي نباتاتو او ډبرو او کانو له بابته غوره او د استفادي وړ خبري پکښي راغلي دي. او کله کله په لغوي لحاظ هم د پښتنو او دري ژبو په څېړنه کښي ډيره استفاده ځني کېدلاي سي.

مثلاً: په تحدید نهایات الاماکن کښي وايي: زه په سه شنبه اوله د جمادي الاخره سنه ٤٠٩ هـ د کابل څنګ ته د جیغور په کلي کښي وم او دغو ځایو رصد مي ټاکه، او دلته راته معلومه سوه چي د کابل تمام عرض ٥٥ درچي او ۱۹ دقیقي دي. چي دغه جیغور به اوسني جاغور وي.

په کتاب الجماهر کښي وايي: چي سلطان مسعود ما ته ډيري نادري تحفي راکړيدي او په هغو کښي یوه داسي د بلورو ټوټه وه چي د میاشتي په آخیرنیو پنځلوسو تیارو شپو کښي به برېښېده، او دا بلور د غزني په قلعه ناي کښي پیدا کیږي او یوه هندو ما ته وویل: چي هندوان دغه بلور خپلو بتخانو او هند ته وړي.

په دغه کتاب کښي بل ځاي وايي: په زابلستان کښي له غزني څخه درې پړاوه لیري د بست پر خوا د خوشباجي کلي اړخ ته د طلا او اوسپني او سرپو او مسو کانوني دي، چي دغه ځاي زروبان بولي، دلته مقناطیسي ډبري هم پیدا کیږي او داسي څهان سته چي له ډبرو او خاورو څخه ئې طلا را کاږي.

دغه بیان هم د جغرافیا او هم د کانو له لحاظه مفید دئ او موږ دغه ځاي هلته ټاکلاي سواي چي هم په دغه کتاب کښي د الهخماهن شرحه لولو، او البیروني لیکي چي په زروبان کښي د خماهن لويي خبري سته، او دا هغه ځاي دئ چي اوس ئې ګويي آهن بولي د غزني او قره باغ تر منځ او هلته د خماهن غونډۍ لیدله کیږي او د البیروني په قول د دغو کانو مشرف او نګران ورمک مجوسي ؤ، او هغه هلته ئې یو داسي مقناطس موندلي ؤ چي نظیر ئې نه درلود، په ټول نه درهمه ؤ، او د خپل وزن درې ګرايه اوسپنه ئې را جذبولاي سواي.

د دغو کانو تاریخي سوابق هلته موږ ته معلومیږي چي د مطهر بن طاهر المقدسي کتاب الندء و التاريخ (څلرم ټوک ۷۸ مخ) وګورو، او دا مؤرخ لیکي چي دغه کانونه په خشباجي کښي په ۳۰۹ هـ کال پیدا سوي وه، او په خپله البیروني هم په زوربان کښي د نانې نوم اخلي چي تر اوسه هم په دغه نامه بلل کیږي.

البیروني په همدغه کتاب کښي کښلي دي: چي ختو د یوه وحشي غويي ښکر دي او ډير قیمت لري، چي د سیستان امیر خلف بن بانو د ختو له تختو څخه یو لوي صندوق درلود او په هغه به داسي نازېدي چه د بل پادشاه سره داسي صندوق نه ؤ او د سلطان محمود سره داسي یوه د ختو مشوانۍ وه چي ده "د جلابه الممالک" په نامه د نیکمرغی په سبب مشهوره سوي وه او هغه ئې څو عمر خلف بن بانو د سیستان امیر او ابوالعباس خوارزم شاه ته واستوله،، چي د دوي خزاني ډکي سوې نو ئې بیرته سلطان محمود ته راولېږله.

د البيروني له كتابو څخه دغسي مغتنم اطلاعات د مؤرخانو به لاس كښېوزي او مور د پښتو لغاتو په تحقيق كښي هم ډېره استفاده ځني كولاي سو، مثلاً په صيدله كښي وايي چي د پيازو يو ډول په درمشال كښي د رخد او زابلستان تر منځ پيدا كيږي چي كوک ئي بولي او دا كلمه تر اوسه هم په پښتو كښي په دغه معنا سته. د البيروني په صيدله كښي د چايو پر تاريخ باندي ښه تفصيره سته. دي وايي چي "چا" له چينه څخه راځي، او عربان ئي صا بولي، خوند ئي لږ تريخ دي او په تودو اوبو كښي ايشوي، شربت ئي د شرابو د خمار علاج دپاره چيښي، مگر هر ځاي ئي خوړل مجاز نه دي، په خاصو ځايو كښي ئي خلک خوري، او له هغو ځايو څخه خاص خراج (ټكس) حكومت ته اداء كيږي.

د زعفران په اقسامو كښي يو ډول د بست په درمشان كښي پيدا كيدي، چي په سيستان كښي سه برگ باله او په زابلي ژبه غويرک او په درمشان كښي دري غوري بلل كيدي او دا كلمي پښتو دي، درې غوري يعني سه برگه.

د زيتون په بيان كښي وايي: چي په الجبال الفغانيه يعني د پښتنو په غرو كښي يو راز زيتون پيدا كيږي چي داني ئي كوچنۍ دي او هغه شوني بولي، او دا كلمه تر اوسه هم د پښتو ښوني=خوني ده.

د البيروني بل شهكار آثار الباقيه عن القران الخاليه دئ، چي زاخاو الماني مستشرق په ۱۸۷٤م چاپ كړيدي. دا كتاب د پخوانو ملتو د رواياتو او آثارو يوه خزانه ده، د قديمو شاهانو كورنی او زماني او د پخوانو ملتو تقاويم، مياشتي، اخترونه او د دوي د اوقاتو حسابونه او ډېر نور تاريخي روايات پكښي خوندي سويدي، او د افغانستان په تاريخ كښي هم دا اوستايي او اسلامي دورې د ثقافت او فكري او اجتماعي اوضاعو ځرگندونه په ښه ډول كولاي سي، او د څيړونكو محققانو لپاره يو غوره او د اعتماد وړ ماخذ دي.

د البيروني له كتابو څخه يو څو اوس ورک دئ، او ده د افغانستان ځيني داستانونه ئي هم په عربي ترجمه كړي وه چي په يوه كتاب "حديث صنمي الباميان" كي د باميانو د دوو بتانو داستان ؤ بل كتاب ئي "قسم السرور او عين الحياه" د سامند كابلشاه قصه وه،، د اورمزديار او مهريار داستان ئي هم ليكلي ؤ، خو افسوس چي دغه كتابونه بالكل ورک دئ كه نه وي زموږ په تاريخي تحقيقاتو كښي به ډېر مهم واي.

آريانا مجله، ۱۳٤٦ كال، ۵-٦ گڼه، ص ا-٤.